# دَ سوات دَیو کلاسیکي شاعر حسېن دَ ژوند او فن تنقیدي جائزه

## A Critical Appraisal of Life and Works of Hussain: A Classical Poet of Swat

ډاکټر محمد علي دیناخېل*

**Abstract**

Hussain, a classical poet, a contemporary of Mughal king Awrangzeb, born nearly in 1068 Hijra in a village of MalakPur in Buner. Hussain was the son of Hassan, who was the grandson of Pir Baba and son of Mian Mustafa Muhammad. After some time, Hussain shifted to Pakhlai (a village in present upper Swat near Madyan). He stayed for a long time in Pakhlai with his uncle Mian Qasam who had already shifted there to convert the indigenous people of Swat Kohistan to Islam. Later on, Hussain shifted to a village Kokṛai (near Saidu Sharif, Swat). While living in Kokṛai, some elders of Amazi tribe from Mardan came and took him to GhaṛiAmazai village of Mardan. Hussain died there in 1130 Hijra (1717 AD). His grave is in the graveyard of Amazo near Shahbaz Ghaṛi. He is known as Syed Hussain Baba. Some of his descendants are living in Amazo Gharai and some in Swat. His poetry collection, Dewan, has been edited and published by Hamish Khalil in 1958. He has mentioned the places where he had lived. Among them two names are Pakhlai and MalakPur. Here the Pakhlai is not the village of Hazara division but it is a village near Madyanin Swat. This place has been named after an ancient king of Swat Sultan Pakhal. The second place which has misinterpreted is MalakPur. Actually MalakPur is a village in present Buner. From the analysis of the Hussain's poetry and other I concluded that Hussain has spent a major part of his life in Swat. In this article I have described the life and works of this classical poet. Besides I have also analysed his poetry in sociolinguistic and cultural context for better understanding of the life and works of Hussain. Claims that Hussain belonged to Pakhlai and MalakPur of Hazara have no strong evidences. Therefore if someone claims like this must have to bring forward more evidences and thus further research is also suggested for clarifications of many ambiguities and confusions about the life and works of Hussain.

**Keywords**: Syed Hussain; Swat, Pashto literature; Pashto Poetry; Diwān-i-Hussain

* ریسرچ ایسوسي ایټ ، ایریا سټډي سنټر، پېښور پوهنتون

دَ پښتو ادب پۀ تاریخ کښې دَډېرو لیکوالانو دَ ژوند حالات لاتر اوسه پۀ تیارو کښې دي - پۀ دغه شاعرانو او لیکوالانو کښې یو شاعر او لیکوال حسېن هم دے چې لا پرې تر اوسه دا اتفاق نۀ دے راغلے چې حسېن دَ کومې علاقې سره تعلق لرلو- دَ حسېن دَ ژوند ، د اوسیدلو دَ ځائے او دَ ادبي تخلیقاتو پۀ باره کښې دَ څېړنې پۀ لاړ کښې چې کومې خبرې څېړنکارانو ته مشکلات جوړوي هغه دا دي : اولنۍ خبره دا ده چې دَ حسېن پۀ نوم پۀ پښتو ادب کښې دَ یو نه زیات لیکوالان موجود دي - دوېمه خبره دا ده چې دَ حسېن دَ اوسېدلو دَ علاقې پۀ نوم هم دَ یوې نه زیاتې علاقې او ځایونه موجود دي لکه پکلۍ دَ سوات او پکلۍ دَ هزارې او دغه رنګ ملک پور دَ بونېر او ملک پور دَ هزارې - د حسېن په حقله د څېړنې په لاړ کښې درېم مشکل د تذکره نګارانو نه پېدا شوے دے - د اکثر تذکره نګارانو نه هم غلطیانې شوې دي او دَ یو حسېن دَ ادبي تخلیق سره ئې دَ بل حسېن دَ ژوند حالات لیکلي دي - لکه پادري هیوز چې کوم حسېن یاد کړے دے او پۀخپل کتاب کښې ئې دَ کلام نمونه هم لیکلې ده نو همېش خلیل وائي چې دا دغه حسېن نۀ دے - صدیق الله رشتین وائي چې دَ جنګنامې لیکونکے حسېن بل دے ځکه چې هغه دَ سېد تخلص استعمال کړے دے او دَ همېش خلیل پۀ تدوین شوي دېوان حسېن کښې د سېد تخلص نۀ دے استعمال شوے - دَ حسېن سره نزدې بل نوم سېد حسېن دے نو ډېرو لیکوالانو ته دا هم پۀ یو بل کښې خلط ملط کولو سبب جوړ شوے دے - د دې مقالې د لیکلو ضرورت هغه وخت پېدا شو کله چې یو څو سوالونه ذهن ته راغلل - هغه تحقیقي سوالونه دا دي :

1. په کال ۱۹۵۸ کښې د ښاغلي همېش خلیل په ترتیب، تدوین او مقدمې سره چاپ شوے "دیوان حسېن" د چا ادبي تخلیق دے ؟
2. د دیوان حسېن خالق حسېن یا سېد حسېن په کوم ځائے کښې پېدا شوے وۀ ؟
3. سېد حسېن د سوات اوسېدونکے وۀ که د هزارې؟
4. سېد حسېن په خپل دیوان کښې د پکلۍ ذکر کړے دے - د پکلۍ په نوم علاقه په سوات کښې هم شته او په هزاره کښې هم شته - نو دا کومه پکلۍ ده ؟
5. د سېد حسېن په دیوان کښې چې کوم ملک پور یاد شوے دے دا د بونېر ملک پور دے که د هزارې؟
6. په تذکرو کښې چې د حسېن ذکر شوے دے نو ایا په پښتو کلاسیکي ادب کښې حسېن او سېد حسېن یو دیکه دوه بیل بیل نومونه دي ؟
7. د سېد حسېن د شاعرۍ مکتب کوم یو دے؟

8. د سېد حسېن ادبي تخليقات کوم کوم دي ؟
9. د سېد حسېن د ژوند زمانه کومه يوه ده؟

د دې مقالې د ليکلو مقصد دا دے چې دَ حسېن دَ ژوند بعضي اړخونه پۀډاګه شي او دَ هغه دَ شاعرۍ جائزه هم واخستلے شي او د حسېن د ژوند ، او ادبي اثارو په باره کښې د وړاندې ورکړے شوو سوالونه جوابونه ولټولے شي - هيله لرم چې دا مقاله به تر ډېره حده د دې سوالونو جوابونه ورکړي او د حسېن د ژوند او د هغه د شاعرۍ د بعضي اړخونو په حقله نور تحقيق ته خلق وهڅوي او دا مقاله به يې مرسته هم اوکړي -

دَ دې مقالې دَ ليکلو دَ پاره معلومات دَ مختلفو منابعو نۀ اخستے شوي دي - بنيادي منبع دَ حسېن هغه ديوان دے کوم چې همېش خليل پۀ ۱۹۵۸ کښې چاپ کړے دے - دَ دې نۀ علاوه دَ مختلفو تذکرو لکه دَ عبدالحليم اثر افغاني تذکره "تېر هېر شاعران"، دَ صديق الله رشتين تذکره "پياوړي شاعران" او دَ رحيم شاه رحيم تذکره "غټه خزانه" او دَ پښتو ادب دَ مختلفو تاريخونو، مقالو او نوروعمومي تاريخي کتابونو نه مواد او معلومات اخستلے شوي دي -

د دغه ټولو معلوماتو د تجزيې او تنقيد نه بعد يوه نتيجه راويستلے شوې ده - د دې مقالې مفروضه دا ده چې حسېن د سوات شاعر دے - او بيا د دغه مفروضې د مختلفو اړخونو جائزه اخستلے شوې ده -دَ حسېن دَ ديوان دَ ښکاره شهادتونو نه علاوه يعني پۀکومو کښې چې هغه پۀ سوات کښې دَ اوسېدلو ذکر کړے دے دَ هغه دَ ديوان دَ پښتو دَ لهجې دَ ټولنيزې ژبپوهنې(Sociolinguistics) پۀ رڼا کښې دَ لفظونو جاج هم اخستے شوے دے او دا کتلے شوي دي چې دغه لفظونه دَ سوات دَ پښتو دَ لهجې سره تعلق لري - دَ سوشيو لنګوسټک تجزيې نه علاوه کلچرل تجزيه هم شوې ده او هغه بنيادي عناصر پۀ ډاګه کړے شوي دي کوم چې دَ سوات دَ ټولنې خپل امتيازات دي - حسېن کوم چې دَ دې مقالې موضوع ده زما دَ تحقيق تر مخه پۀ سوات کښې ژوند کړے دے او کوم ديوان چې همېش خليل پۀ کال ۱۹۵۸ کښې چاپ کړے دے دغه ديوان هم دَ سوات دَ دې حسېن دے - وس به ګورو چې هغه کوم شواهد دي چې د دې مفروضې د صحيح ثابتولو د پاره ما په دې مقاله کښې بيان کړي دي - په دې لړ کښې به اول مونږ د حسېن د ديوان داخلي شهادتونو طرف ته راځو او هغه وېناوې به ترې رانقل کوو د کومو نه چې دا پته لګي چې هغه په سوات کښې ژوند کړے دے - په دې حقله حسېن پۀ خپل ديوان کښې پخپله وائي -

پۀ معنی کښې ستا خاکروب حلقه بګوش يم

ګني ملک مې دے پکلی استوګنه سوات

حسېن دَ مغل بادشاه اورنګزېب هم عصر ؤ - حسېن دَ رحمان بابا دَ مکتب شاعر دے او لکه دَ حمید بابا نازک خیال او موشګاف دے - پهٔ دیوان کښې ئې دَ پښتون کلتور هنداره وړاندې کړې ده - د پښتون کلتور د بعضې عناصرو یعنې دَ مېلمه دوستۍ، جرګې، دستار او ترهٔ تربور وغېره ذکر ئې پهٔ دې مقاله کښې سره دَ مثالونو بیان شوے دے - حسېن یو عام کلیوال قبائلي سړے ؤ او دَ عامو خلقو دَ روزمرې او محاورې ژبه ئې استعمال کړې ده - پهٔ خپل کلام کښې ئې دَ کرکیلې سره تړلي الفاظ لکه سترې، قلبه، هل پېره وغېره استعمال کړي دي - کومو څېړنکارانو چې دَ حسېن تعلق دَ هزارې دَ علاقې پکلی او ملک پور سره ښودلے دے نو دغه رائې هم دَ غور قابله ده او نورې څېړنې ته اړتیا لري - خو په دې لړ کښې یوه خبره ده چې دغه تحقیق محض په روایتو مبني نهٔ وي بلکې د سوشیو لنګوسټکس او انټروپولوجیکل لنګوسټکس په رڼا کښې د حسېن د شاعرۍ جائزه اخستل پکار دي - او هم دغه طریقه ما کوشش کړے دے چې په دې مقاله کښې مې په خپله مفروضه (هائي پوتهي سیس) استعمال کړې ده -

په دې مقام زهٔ لازمي ګڼم چې د حسېن په شجره نسب هم لړ بحث اوکړم - د حسېن د شجره نسب بیان څه په دې ډول دے - دَ پیر بابا دَ ځوي میا مصطفیٰ دوه بیبیانې وې - دَ مشرې بي بي نه ئې یو ځوے میا عبدالله ؤچې پهٔ میا عبدل مشهور ؤ - دَ دوېمې بي بي نه ئې دوه ځامن وو - دَ یو نوم میا قاسم او دَ دوېم نوم میا حسن ؤ. دَ میا حسن دَ یو ځوي نوم حسېن ؤ - دے دَ خپل سیادت پهٔ وجه خپل نوم سېد حسېن لیکي -[1] دَ دهٔ شجره نسب مخکښې داسې بیانېږي - دَ پیر بابا دوه ځامن وو - سېد عبدالله او سېد مصطفی محمد (1564—1615) دَ سېد مصطفی محمد قبر پهٔ کوڼړ کښې دے -[2] سېد عبدالله اول وفات شوے ؤ -[3] دَ سېد مصطفی محمد دوه بیبیانې وې - دَ مشرې بي بي نه ئې یو ځوے میا عبدالله ؤ چې پهٔ میا عبدل مشهور دے او قبر ئې پهٔ شلبانډۍ بونېر کښې دے - دَ کشرې بي بي نه ئې دوه ځامن وو - د یو نوم میا قاسم او دَ بل نوم میا حسن ؤ - دَ میا قاسم قبر پهٔ پیر کلي (سوات) کښې دے او دَ میا حسن قبر پهٔ کوکړۍ کښې دے - دَ میا حسن څلور ځامن وو - اول سېد یوسف ؤ چې پهٔ میا شیخ بابا مشهور دے او قبر ئې پهٔ جهان اباد منګلور کښې دے - دوېم سېد نادان - دَ دهٔ اولاد نهٔ ؤ او قبر ئې پهٔ کوکړۍ کښې دے - درېم سېد میا جي - دَ دهٔ هم اولاد نهٔ ؤ او قبر ئې پهٔ غالیګي کښې دے - څلورم سېد حسېن ؤ - دَ دهٔ قبر پهٔ امازو شهباز ګړه کښې دے -

تر دې دمه دا د سېد حسېن شجره نسب شهٔ وس به د سېد حسېن د اولاد ذکر اوکړو - دَ سېد

حسېن شپږ ځامن وو ـ نومونه ئې دا دي: سېد ابدال، سېد اياز، سېد بياض، سېد غازي شاه، سېد کريم شاه، سېد واصل الدّين ـ[4] دَ سېد حسېن مشر ځوے سېد ابدال دَ تيرات (مدين، سوات) په غزا کښې پۀ 1072 هـ کښې عېن پۀ زلميتوب کښې شهيد شوے ؤ۔ دَ دۀ قبر دَ خپل نيکه ميا حسن بابا دَ مزار پۀ چارډېوارۍ کښې دننه پۀ کوکړۍ کلي کښې دے۔ سېد حسېن دَسېد ابدال پۀ فراق کښې ډېره درد ناکه مرثيه ليکلې ده ـ لکه چې وائي۔

هائے افسوس ارمان ارمان دے زما دله
راتـــــه ووايه چې رابه شي بيا کله
هغه وار دَ سېـــد ابدال دَ پګړۍ تېر شۀ
چې جـــــرګه به دَ سېدانو پرې کېدله[5]

دَ سېد ابدال دَ يو ځوي نوم ميا ګل لال ؤ دَ هغه قبر د سوات د کبل تحصيل پۀ يو کلي دمغار[6] کښې دے۔ دَ ميا ګل لال دَ بۀ ځوي نوم سېد جلال ؤ چې د سوات په يو کلي ګالوچ کښې اوسېدۀ او قبر ئې پۀ (سوات) کالاکلي[7] کښې دے۔[8] دَ حسېن مور پۀ ماشوموالي کښې مړه شوه۔ او دَ دۀ پالنه دَ دۀ ترور اوکړه۔ دَخپل يتيم والي ذکر ئې پۀ دې شعرونو کښې کړے دے۔

بې لۀ مينې چې حسېن ئې خوار خسته کړۀ
ګڼه مينـــــــدې ښۀ ساتي يتيم زوزاد[9]
پۀ لباس مينې[10] هلک مور مړے خپل کړم
زۀ کمبخت دَ شنـــې مزرۍ پۀ تي لګيا شوم[11]

او پۀ يو بل شعر کښې دَ خپل يتيم والي ذکر داسې کوي۔

دَ يتيـــم پۀ دود لوئېږي زير زبېخلے
چې رودلے ئې تے دَ مينې دَ مور نۀ وي[12]

د حسېن پالنه او تربيت دَ هغه ترور اوکړه۔ لکه پۀ دې شعر کښې ئې چې ياده کړې ده۔

چې ئې پۀ اوچو تو ساتلے يم هلک مور مړے
ځم چې تعظيم اوکړم دَ مينې مهرباني ترور ته[13]

حسېن د خپلې ترور سره ډېره مينه لرلهځکه چې په ماشوموالي هغې حسېن له ډېره مينه ورکړې وه ۔ او هم دغه وجه ده چې حسېن د خپلې ترور د تعظيم د پاره حاضري کوي۔

حسېن په پښتو ادب کښې يو معلوم نوم دے خو د بده مرغه لکه د پښتو د يو شمېر نورو کلاسيکي شاعرانو په څېر د حسېن د ادبي تخليقاتو جائزه نۀ ده اخستلے شوې او په موجوده وخت کښې د حسېن هم دغه يو ديوان موجود دے ۔دَحسېن دَ شجره نسب نه وروستو به اوس

مونږه دَحسېن دَ ادبي تخليقاتو طرف ته راځو - پۀدې باره کښې عبدالحی حبيبي دَ پښتو ادبياتو پۀ تاريخ کښې ليکي چې حسېن دَ " خلاصة الاسلام" پۀ نوم يو کتاب پۀ پښتو کښې ترجمه کړے دے چې طرز ئې دَ اخون درويزه دَ مخزن اسلام پۀ شان دے او بيا دا هم وائي چې سېد حسېن دَ "جنګنامه حسېن" ليکونکے دے -[14] عبدالحليم اثر افغاني ليکي چې دَ دۀ کتاب دَ اتياو کالو دَ يو مشر سېد عبدالخالق سره دے او هغه وائي چې دا کتاب زمونږ پۀ خاندان کښې زما دَ والدې صاحبې دَ ترۀ پۀ قلمي ذخيره کښې ؤ - دَ دغه ترۀ نوم ئې سېد حبيب ؤ او دَ 1200 هجري خوا ؤ شا کښې ژوندے ؤ - دَ دې مطلب دا شو چې سېد حبيب ته دَ خپل مشر نيکه ميا قاسم دَ ورارۀ سېد حسېن قلمي تاليف پۀ ميراث کښې پاتې شوے دے -[15] دَحسېن ديوان دَ ښاغلي همېش خليل پۀ سريزه او اهتمام پۀ کال 1958 کښې پۀ پېښور کښې چاپ شوے دے - دا قلمي نسخه دَ پېښور دَادبي ټولنې دَ کتب خانې نه همېش خليل اخستې وه -[16] حسېن کۀ هر څومره کتابونه ليکلي وي خو موجود ئې في الحال دا يو ديوان دے - دَ دې ديوان چاپې پاڼې پينځه سوو ته رسېږي او پۀ اخر کښې ئې يو څو ټپې هم راغلي دي -[17] ښاغلے اثر افغاني دَ جنګنامه حسېن ليکونکے سېد حسېن او د دغه ديوان واله حسېن يو ګڼي خو صديق الله رشتين وائي چې دا قياس سم نۀ ښکاري او زياتوي چې اثر صاحب سېد حسېن دَ ميا حسن ځوے او دَ ميا مصطفى نمسے بولي چې هغه دَ سېدعلي ترمذي پير بابا ځوے ؤ - دَ زمانې پۀ لحاظ پۀ دواړو کښې فرق ډېر دے - حسېن پۀ 1118 کښې سپين ږيرے ؤ چې دَ سېد حسېن دَ پلار ميا حسن هم زمانه ښکارېږي - بله خبره دا ده چې سېد حسېن دَ جنګنامې پۀاشعارو کښې خپل تخلص "سېد" راوړے دے او کله سېد حسېن هم ليکي او حال دا دے چې دې حسېن پۀ خپل ټول ديوان کښې دَ سېد تخلص پۀ يو ځائې کښې نۀ دے راوړے -[18] صديق الله رشتين پۀ خپل يو بل کتاب "ادبي او تاريخي سمونې" کښې ليکي چې دا ديوان دَ حسېن دے او دَ سېد حسېن نۀ دے -[19] رحيم شاه رحيم ليکي چې دَ هغه دوه قلمي نسخې اوس هم پۀ ګهړي امازو (مردان) کښې دَهغه دَ نمسو او بل دَ کفور خېلو خانانو سره پرتې دي -[20] داسې معلومېږي چې دَ حسېن ديوان هغه پۀ خپل ژوند مرتّب کړے ؤ - دا لاندينې شعرونه دَ دې خبرې پخلے کوي -

دَ زړۀ موج ئې لکه سيند و سر ته اوخوت
همېشه حسېن لري پۀ لاس ديوان لوند [21]

او يا لکه دا شعر

سوز پۀ سوز راباندې پورې سوزان شعر کۀ
سرې لمبې مې نن بلېږي پۀ ديوان کښې [22]

دَ سېد حسېن کوم دیوان چې همېش خلیل صاحب چاپ کړے دے دَ هغه دیوان دا قلمي نسخه دَ مردان نه تر لاسه شوې ده ۔[23] دا دیوان پۀ وړومبي ځل دَ همېش خلیل پۀترتیب او تدوین سره پۀ 1958 کښې چاپ شوے دے۔ هغۀ دَ دغه دیوان پۀ دیباچه کښې لیکي چې پادري هیوز چې پۀ "کلید افغاني" کښې دَ کوم حسېن ذکر کړے دے او دوه غزلونه ئې ورله دَ نمونې ورکړي دي ۔ دا دیوان دَ کلید افغاني دَ دغه حسېن دیوان نۀ دے ۔[24] صدیق الله رښتین هم داسې لیکي چې پادري هیوز پۀ کلید افغاني کښې کوم دوه غزلونه راوړي دي دغه غزلونه دَحسېن پۀ دیوان کښې نشته نو معلومېږي چې حسېن او سېد حسېن دواړه جدا جدا شاعران وو ۔[25] رشتین وائي چې پادري هیوز چې دَ کوم حسېن شاعر ذکر کړے دے دغه حسېن دَ صوابۍ دَ علاقې شاه منصور اوسېدونکے ؤ۔ عبدالحئ حبیبي لیکي چې دَ حسېن دَ ژوند حالات چا ته پوره نۀ دي معلوم خو پادري هیوز ئې پۀ "کلید افغاني، کښې ذکر کړے دے ۔[26] خو اوس پته اولګېده چې دَ کلید افغاني حسېن بل دے ۔ اوس به وړاندې مونږه دَ حسېن دَ پېدائش او دَ هغه دَزمانې پۀباره کښې ګورو چې دۀ دکومې زمانې سره تعلق لرلو- په دې حقله د داخلي او خارجي شهادتونو نه پته لګي چې سېد حسېن دَ بونېر پۀ پاچا کلي کښې دَ 1050 هجري خوا ؤ شا پېدا شۀ ۔اوتر ډېرې مودې پورې دَ بونېر پۀ ملک پور نومې کلي کښې اوسېدۀ ۔[27] دَ مغل بادشاه اورنګزیب دَ مرګ پۀ وخت یعنې ۱۱۱۸ هجرۍ کښې حسېن دَ پنځوستو کالو ؤ نو پۀ دغه حساب کۀ مونږه اوګورو نو ۱۰۶۸ هجري دَ حسېن دَ زېږون نېټه جوړېږي -

دَ ملک پور ذکر پۀ یو شعر کښې داسې کوي۔

چې پېدا شوې پۀ کښې ستا ملالې سترګې
ځکه پاتــــــــــې لۀ حسېنه ملک پور شۀ[28]

د حسېن د ژوند د زمانې او ځائے نه وروستو دا ضروري ده چې د حسېن د علم اوتعلیم په باره کښې لږ شان بحث اوشي -دّ حسېن دَ تعلیم او زدکړو پۀ باره کښې مختلف روایات موجود دي - داسې وئېلې شي چې حسېن خپلې وړومبۍ زدکړې دَ پیر بابا پۀ مدرسه عالیه کښې اوکړې او دَ نور علم دَ پاره دَ هندوستان دهلي او دکن علاقو ته لاړۀ ۔[29] پۀ خپلو اشعارو کښې دَ هند او دَ دکن ذکر داسې کوي۔

پۀ رضا مې زړۀ پۀ زړۀ لۀ یاره واخست
کۀ میشته زۀ پۀ دکن او یا پۀ هند یم

او یا لکه دا شعر

لا به خرګند دَ ښکلي مخ پهٔ مخـــــه راشي کله
دَ تورو زلفو پهٔ ډونډ[30] تلم پهٔ هندوستان اوختم[31]

او یا لکه دا شعر

واړه عشق دي چې سړے جهان ګشته کا
پهٔ اسانـــــه به څوک پرېږدي خپل وطن[32]

او بل ځائے دَ وطن دَ پرېښودلو ذکر داسې کوي۔

بې وصلته دي ژوندون راباندې ګران ؤ
ستا ملالو سترګو ورک کړم له وطنه[33]

پهٔ دې شعرونو کښې دَ وطن دَپرېښودلو او دَ هندوستان دَذکر کولو نهٔ دا پته لګي چې سېدحسېن دا وطن پرېښودلے ؤ او پهٔ هندوستان کښې ئې وخت تېر کړے ؤ۔ سېد حسېن دَ اورنګ زېب مغلي بادشاه دهمعصر شاعر دے۔ ځکه يې په خپلو شعرونو کښې د هغه یادونه کړې ده لکه چې وائي۔

دغه تخت ؤ دَ دونهې چې ملنګ واغست
کهٔ مسند دَ هندوستان ؤ اورنګ واغست[34]

او یا لکه دا شعر

لکه چـــــــې زهٔ ستا دَ کوڅې پهٔ خاورو فخر کوم
هومره لوئي دَ هندوستان پهٔ تخت اورنګ نهٔ کاندي[35]

او بل ځائې داسې وائي۔

دا پهٔ قبنج ډکه نوې پېغله مې لهٔ څنګه لاړه
کهٔ بادشاهي دَ هندوستان وه دَ اورنګه لاړه[36]

اوبل ځائې داسې وائي۔

چې پرون دَ هندوستان دَ تخت بادشاه ؤ
نن ئې لور زمانې اوتومبهٔ پهٔ ملا کښې[37]

اورنګزېب پهٔ کال 1118 هجري کښې وفات شوے دے۔ پهٔ دغه وخت کښې حسېن دَ پنځوستو کالو سپین ږيرے وهٔ لکه چې وائي۔

اوس پهٔ سپينه ږيره څهٔ رنګ ترې توبه کړم
يمه عشق ســــــره اشنا پهٔ حيوانۍ کښې[38]

او یا لکه دا شعر۔

کج کردار یــــم کج گفتاره پتېږ سترګې
سپینه ږیره غاښ وتـلي هوښیار نۀ شوم[39]

پۀ دې حساب دَ سېد حسېن دَ زېږون نېټه ۱۰۶۸ هجري ټاکل کېږي۔[40]

دَ ټولو نه اهم سوال کوم چې دَ دې مقالې پۀ مرکزي سوالونو کښې یو سوال دے هغه دا دے چې حسېن دَ کوم ځائے وۀ یعني پېدا شوے کوم ځائے وۀ او پۀ کومو کومو ځایونو کښې ئې ژوند کړے ؤ او دَ ژوند زیاته برخه ئې پۀ کوم ځائے کښې تېره کړې وه - په دې حقله به اول د مختلفو پوهانو وېناوې نقل کړو چې هغوي د حسېن د اوسېدلو د ځائے ځائیګي په حقله څۀ وئېلي دي - پۀ دې باره کښې پوهاند صدیق الله رشتین لیکي چې حسېن دَ اباسین نه پورې غاړې دَ کشمیر او تینول تر مینځ سیمه کښې دَ پکلي (ملک پور) نومې کلي اوسېدونکے وۀ۔ خوپۀ دې حقله یو بل قول دا دے چې کوم وخت دَمیا حسن مشر ورور میا قاسم دَ میا نور محمد پۀ وېنا سوات کوهستان ته دَ اسلام دَ تبلیغ له پاره دَ ډوما کافرو سره پۀ مدین شاګرام او پکهلي (دا درې واړه کلي په بر سوات کښې دي) کښې میشته وۀ نو سېد حسېن هم پۀ خپل ترۀ پسې دَ بونېر نه پکهلي ته لاړ شۀ۔ پکهلي دَ سوات پخواني بادشاه سلطان پکهل پۀ نوم دَ (سوات) کوهستان پۀ علاقه کښې دَ مدین سره نزدې یو کلے دے۔[41] سېد حسېن ډېره زمانه پۀ پکهلي (سوات) کښې دَ خپل ترۀ میا قاسم دَ تربیت او صحبت لاندې اوسېدۀ۔[42] رحیم شاه رحیم وائي کوم دیوان چې همېش خلیل چاپ کړے دے دا هم دَ سوات دَدې حسېن دیوان دے او مخکښې زیاتوي چې قاضي عبدالحلیم اثر او همېش خلیل چې دَ دې پکهلي نه مراد دَ هزارې پکهلي اخستې ده نو دَ دې وجه دا ده چې هغوي ته دَ سوات دَ پکهلي پته نۀ وه۔[43] کله چې سېد حسېن دَ پکلي (مدین، سوات) نه کوکړي ته راغے نو دا شعر ئې ووئېلو۔

پۀ معني کښې ستا خاکروب حلقه بګوش یم
ګني ملک مې دے پکلي استوګنه سوات[44]

او په دې باره کښې داسې هم وئېلے شي چې حسېن کله زلمے شۀ نو دَ ترور دَ لور سره ئې مینه پېدا شوه او دَ دې مینې دَ زیاتېدو لۀ وجې سوات ته لاړو نو هلته یې داشعر ووئېلو - پۀ دې حقله داسې وئېلے کېږي چې هغه وخت کښې به ئې پکلي ته سوات ځکه نۀ وئېلو چې پکلي، مدین، شاګرام او تیرات دَ سوات پۀ طبعي جغرافیائي حدونو کښې نۀ راتلل۔ لکه څنګه چې راورتي وئېلي دي چې دَ پیا نه پۀ بره کوهستان پۀ سوات کښې نۀ راځي۔[45] راورتي وائي چې چوړړي [46][مدین] او تیرات دَ شېخ ملي پۀ وخت کښې نۀ دي قبضه

شوي بلکې يو نيم سل کاله وروستو دَ اخون کريم داد پۀ وخت کښې دَ سوات کوهستان دَ کافرو نه اخستې شوي دي۔[47] او هم دغه وجه ده چې کله د هغه زمانې د خاص سوات ذکر کيږي نو دغه علاقې پکښې نۀ حسابيږي۔

دلته که يو طرف ته د پکلي په نوم کښې مسئله ده چې په دې نوم علاقه په سوات کښې هم ده او په هزاره کښې هم ده نو بل طرف ته د ملک پور نوم هم دغه مسئله جوړه کړې ده چې په دغه نوم يو کلے په بونېر کښې دے او بل کلے په هزاره کښې دے ـخو رحيم شاه رحيم وائي چې سېد حسېن چې په خپلو شعرونو کښې کوم ملک پور ياد کړے دے دغه ملک پور دَ پکلي (هزاره) ملک پور نۀ دے بلکې دَ بونېر ملک پور دے او پۀ دې شعر کښې چې کومه پکلي ياده شوې ده دا نوم دَ هزارې دَ پکلي نۀ بلکې دَ سوات پکلي دے۔ وائي چې څه وخت دَ ميا حسن مشر ورور ميا قاسم سوات کوهستان ته دَ اسلام دَ تبليغ له پاره راغے نو سېد حسېن هم پۀ خپل ترۀ پسې دَ بونېر نه پکلي (سوات، مدين) ته لاړو. دَ سوات کوهستان دَ تيرات پۀ غزا کښې چې کله ميا کريم داد شهيد شۀ نو دَ ميا نور محمد او ميا قاسم سره سېد حسېن هم پۀ ډېرو جنګونو کښې برخه واخسته۔ دغه وجه ده چې دے دَ سېد حسېن غازي پۀ نوم هم يادېږي۔ ميا قاسم پۀ سوات کوهستان کښې نوو مسلمانانو ته دَ اسلامي تعليماتو درس ورکولو دَ پاره ډېره موده پهَ سوات کوهستان کښې اوسېدۀ اوڅه وخت وروستو ميا قاسم پير کلي ته راغے او سېد حسېن ئې پۀ پکلي (مدين) کښې پاتې کړۀ اوبيا څۀ وخت وروستو سېد حسېن دَ مدين (پکلي) نه سېدو شريف (سوات) سره نزدې کوکړۍ نومې کلي ته لاړو۔ پۀکوکړۍ کښې دَ سېد حسېن پلار ميا حسن اوسېدۀ. او هم دغه شان څه وخت وروستو سېد حسېن د سوات نه دَ مرادان دَامازو ګړۍ دَ خلقو پۀ دعوت هلته لاړ شۀ۔

عبدالحليم اثر افغاني ليکي چې سېد حسېن دَ رياست سوات دَ مرکزي مقام سېدو شريف سره متصل مغرب طرف ته کوکړۍ نومې کلي کښې اوسېدۀ۔ او دَ دغه ځائے نه پۀ هغه زمانه کښې دَ امازي قبيلې مشرانو پۀ جرګه بوتلو او دَ مردان مشرق طرف ته پۀ مشهور کلي ګړهي دولت زۍ کښې اباد شۀ۔

د سېدحسېن د وفات د تاريخ او د قبر د ځائے په باره کښې دا وئيلے کيږي چې کله دې امازو ګړۍ ته لاړۀ نو دَ (1717ء) 1130 هجري خوا ؤ شا هم هلته وفات شوے دے۔ قبر ئې پۀ امازو ګړۍ کښې دَ خوړ پۀ غاړه شهباز ګړې ته نزدې پۀ لږه فاصله پروت دے او پۀ سېد حسېن بابا يادېږي[48] سېد عبدالجبار شاه وائي چې دَ سېد حسېن قبر سېدو شريف ته نزدې دے۔[49]

د سېدحسېن د اولاد په حقله هم لږ بحث کول لازمي ګڼم ځکه چې دا بحث به په دې موضوع کار کونکیو نورو ځېړنکارانو ته د ښو معلوماتو د راجمع کولو په لړ کښې مرسته اوکړي ۔ دَسېد حسېن دَ شپږو زامنو نومونه دا دي ۔ سېد ابدال، سېد ایاز، سېد بیاض، سېد غازي شاه، سېد کریم شاه، سېد واصل الدّین[50] داسې هم وئیلےشي چې دَ سېد حسېن څه اولاد پهٔ سوات او څه پهٔ اسماعیله (صوابی) او زېده کښې اوسېږي او دا هم وائي چې سېد قاسم اوسېد حسېن او دَ دوي اولاد دَ سوات کوهستان پهٔ جهاد کښې حصه اخستې ده ۔[51] دَحسېن دَ مرګ نه وروستهٔ دَ دهٔ اولاد پهٔ خوا ؤ شا علاقو کښې خور شو چې پهٔ ګړهي دولت زئي تحصیل مردان، اسماعیله، نذر، زېده او هنډ تحصیل صوابی کښې اباد دي اونور اولاد ئې پهٔ سوات کښې خاص پهٔ قمبر کښې دے ۔ دَ هغه وخت د سوات د ریاست دَ والي صاحب ماما ګان چې پهٔ لالاګانو مشهور دي هغه هم دَ دې سېد حسېن پهٔ اولاد کښې دي ۔[52] رحیم شاه رحیم لیکي چې کله دے پهٔ ګړهي امازو کښې وفات شو نو دَ دهٔ دَ مرګ نه وروستو دَ دهٔ څهٔ اولاد سوات ته لاړل او پهٔ سوات کښې پهٔ قمبر، ډهېری، دمغار، کالاکلي، ګالوچ اوشلهڼ کښې اباد شول ۔ دَسېد حسېن دَ یو ځوي سېد ابدال قبر پهٔ کوکړی (سوات) کښې دے ۔ دَ سېد ابدال دَ یو ځوي نوم میا ګل لال دے او دَ دهٔ قبر پهٔ دمغار (سوات) کښې دے ۔ دَمیا ګل لال دَ ځوي سېد جلال قبر پهٔ کالاکلي (سوات) کښې دے ۔[53]

دَ شاعری مکتب

کله چې مونږه دَ حسېن دَ شاعری پهٔ مکتب خبرې کوو نو دَ وینا او کلام پهٔ سادګی، اسانی او رواني کښې دے دَ رحمان بابا دَ مکتب پیروکار دے ۔ مګر پهٔ نازک خیالی ،ادبي تشبیهه ګانو او استعارو کښې دَحمید دَ لارے لاروے دے ۔ لکه حمید بابا چې موشګاف یادېږي نو دهٔ ځان ته پخپله هم موشګاف وئیلے دے ۔

عشق باریکه مسئله ده فکر بویه
غره مهٔ اوســـه حسېنه موشګافه[54]

اوبل ځائے کښې دَ موشګا فی ذکر داسې کوي ۔

بیا به دَ یار دَ ښکلـــي حسن ګفتګو نهٔ کوم
چې ئې پهٔ مدحه زهٔ حسېن وېښته چولے نهٔ شم[55]

دَ نازک خیالی یو څو نورې نمونې ئې دا دي ۔

دغه وینې دي زما چې فلک قے کړې
بېهوده ئې شفق بولي نا خبـــــــــر[56]

اويا لکه دا شعرونه -

دغه ويني دي زما چې فلـــــک اوښني
نا خبـــــر عالم ئې بولـــــي پۀ شفق[57]

دا زما دَ خون اغبږۀ اسمـــــان قے کړو
بېهوده وائي شفق شو مـــــازيگر د ے[58]

دا زما د آه لوخړه اسمـــــــان قے کړه
دغه نۀ د ے صبحدم چې سحـــــر راغے[59]

دا او داسې بې شماره نورو شعرونو کښې دَ حسېن دَ نازک خيالۍ نادرې نمونې موند ے شي او دَ دې نمونو پۀ ليدلو بې اختياره هر سړ ے دَ حسين دَنازک خيالۍ تعريفونه کوي - کله چې مونږه دَحسېن دَ شاعرۍ موضوعات او خصوصيات گورو نو مونږ ته دَ حسېن پۀ ديوان کښې دَ مينې محبت او عشق ترانې، اخلاقي پندونه او اجتماعي درسونه زيات پۀ نظر راځي[60] دَ دۀ دَ اشعارو لوئے صفت دا د ے چې دَ پښتو خالص او سوچه لغات پکښې ډېر دي او دَ خپل وخت دَ نورو شاعرانو پۀ شان پۀ کښې دَ عربۍ او فارسۍ اثرات کم دي-[61] دَ کر کيلې سره تړلي يو څو اصطلاحات ئې داسې استعمال کړي دي چې نن صبا هم دَ سوات دَ کليو او دَ بانډو خلق دغه اصطلاحات استعمالوي - دا ظاهره ده چې دَسوات دَ ښاريې خلق هم دا اصطلاحات نۀ پېژني - فصل چې اوربلے شي او پۀ پټي کښې خور پروت وي يعني گېډۍ ئې ترې نۀ وي تړلې نو دغه پرانستو گېډو ته ستري وائي- دې اصطلاح له ئې څنگه روماني رنگ ورکړے د ے-

اوسوم پائے تر سره ارام نۀ مومـــــــم لۀسره
او چيچلم مار د تورو زلفو په ستري کښې[62]

اويا لکه دا شعر

ولې بـــــــه دماغ دَ حسېن کوږ نۀ وي لۀکبره
درسته شپه چې خوب دَ يار دَ زلفو پۀ سترو کا[63]

دغه رنگې يو بل لفظ قوده چې بنيادي توگه باندې د کرکيلې سره تعلق لري، داسې استعمالوي - دَ يادولو وړ ده چې قوده دَ وښو يو موټې ته وائي -

قوده غشي مې دَ زړۀ پۀ موخه لک شُو
خطا نۀ کړۀ ستا مژگانو گذار خپل[64]

هل پېره هم دَ کرکيلې اصطلاح ده - کله چې څوک پۀ غوايانو يِوه کوي او غوايان يو کيل ختم کړي او بيا واپس ئې راگرځوي دې ته هل پېره وائي -حسېن ئې داسې استعمالوي -

بې له تا چې دَ وقوف فکر دې نشته
غوائـي اودرېږي چې راشي هل پېره[65]

دَ حسېن پۀ شاعرۍ کښې دَ پښتون ثقافت او پښتونولۍ پۀ زړۀ پورې عکاسي شوې ده - لکه څنګه چې پۀ دې شعرونو کښې ښکارېږي - دَ مثال پۀ توګه مېلمستیا چې دَ پښتو او پښتونولۍ یؤ اهم توکے دے دَ هغې یادونه ئې داسې کړې ده -

لړه غوښه به دَ زړۀ وَ کوم ته ږدمه
مېلمانۀ مې شُو غمونه دَ یار ډله

دلته پۀ دې لاندیني شعر کښې پۀ پښتونولۍ فخر دے او دَ پښتونولۍ دَ یو بل خصوصیت ذکر دے هغه خصوصیت دا دے چې یوپښتون دَ یو دشمن نۀ تختېدل خپل شرم او دَ پښتو دَ روایاتو خلاف ګڼي او کۀ څوک داسې اوکړي نو هغه بیا پښتون نۀ حسابېږي -

اوس پۀ کوم هنر حسېنه لۀ عشق تښتم
چې شهره شوم دَ پښتو پۀ پرګنـــــې زۀ

دلته پۀ دې لاندیني شعر کښې دَ جرګې دَ اهمیت ذکر دے او یوه بله خبره پۀ کښې دا هم پټه ده چې څوک پۀ چا پسې جرګې له ورشي نو دغه کوربه به ئې مېلمستیا هم کوي او دَ جرګې خبره به هم مني-

بیا جرګه دَ یار دَ غم راباندې راغله
لکه قرت به ئې مېزبانۍ لره سولېږم

دلته دَ پښتنې ټولنې دَ یو بل خصوصیت ذکر دے چې پۀ پښتنه ټولنه کښې دَ ترۀ ځوي ته تربور وائي او دا لفظ دَ دشمن هم معني استعمالوي -

چې پۀ اصل مې تربور و سر ته ناست دے
پۀ دوستۍ به دَ رقیب کلـــــه اقرار شم

ښېرې کول هم پۀ پښتون کلچر کښې موجود دي او زیاتره کمزوري خلق او ښځې ښېرې کوي - کله نا کله خلق دَ ډېرې مینې اوناز نۀ هم ښېرې کوي لکه پۀ دې ټپه کښې چې ذکر شوي دي -

مازیګرے دے ښېرې مۀ کـــــــړه
ته به دَ ناز ښېرې کوې رښتیا به شینه

حسېن دَ ښېرو پۀ باره کښې داسې وائي -

کۀ مدام ورته دربم پۀ ښېرو زمـــکه
نۀ شۀ ځائے دَ سپي رقیب زېر زمین[66]

لکه څنګه چې وړاندې ذکر شو چې پښتانۀ تربور دَ دشمن په معنو کښې اخلي خو کله چې دَ بل قام یا زورور دشمن سر جنګ جګړه راشي نو بیا ترۀ تربور ټول یو لاس وي - لکه دَ حسېن په دې شعر کښې چې دَ ترۀ او دَ ورارۀ دَ صلاح ذکر راغلے دے -

غوږ په غوږ رقیب غماز په ګوښه ناست دے
خدایه خېر کړې څـۀ صلا ورارۀ او ترۀ کا[67]

دستار او بیا په دستار کښې لوړه او جګه شمله په پښتون کلچر کښې دَ مشرۍ او دَ عزت یوعلامت دے - حسېن په دې شعر کښې دَ دستار ذکر داسې کړے دے -

تورزن فکر مې عالم پۀډاګ ډاګ اوویشت
نن شمله یم زۀ حسېن په پښتنو کښــــې[68]

دَ دې شعرونو نه علاوه نور هم یو شمېر شعرونه داسې دي چې دَ پښتون کلتور او رسم و رواج اندازه ترې په اسانه لګېدلے شي -

په دې مقاله کښې چې کوم مواد او معلومات وړاندې کړے شو د هغه موادو او معلوماتو د تجزیې نه پس مونږ دا وئېلے شو چې کوم دیوان چې ښاغلي همېش خلیل چاپ کړے دے - دا دیوان دَ حسېن دے او دا حسېن په سوات کښې پاتې شوے دے - هم دا حسېن دے چې دَ پیربابا پۀاولاد کښې دے - د حسېن په دیوان کښې چې د پکلۍ کوم ذکر شوے دے نو دغه پکلۍ هم دَ سوات (مدین) پکلۍ ده - همېش خلیل دَ حسېن دَ دیوان په مقدّمه کښې لیکي چې حسېن دَ هزارې دَ پکلۍ علاقې دَ ملک پور نومې کلي ؤ-[69] خو دَ حسېن دَ دیوان دَ داخلي شهادتونو نه هم پته لګي چې هغه دَ سوات اوسېدونکے ؤ - په سوات کښې چې دَ شیخ ملي دَ وخت کوم ګرځینده وېش په رواج کښې ؤ دَ هغې ذکر داسې کوي -

اوس به کوم وطن ته کډه دَ زړۀ بیا یم
چې دؤتر مې شودَ مینې شیـخ ملي[70]

د شیخ ملي د دستور مطابق د سوات زمکې دوه قسمه وې یو ته به ئې دوتر وئیلو او بل ته سېرۍ - دَ دؤتر او سېرۍ ذکر داسې کوي -

دَ تن کډه به حسېن پســــــې راکاږم
چې وطن ته مې دَ عشق دَ زړۀ دؤتر لاړ[71]

او یا لکه دا شعر

دَ برني فریاد مې ګرځي په کښې دوه سوه قلبې
ذاهــــد دې اوکا تماشا زما دَعشق سېرو ته[72]

دَ پکلۍ ذکر داسې کوي

چې پیدا شو پۀ کښې مشک زما دَ شعره
دا ختن دے نۀ پوهېـــــــــــږم کۀ پکلۍ[73]

دَسوات ذکر داسې کوي:

پۀ معنی کښې ستا خاکروب حلقه بگوش یم
گنې ملک مې دے پکلۍ استوگنه سوات[74]

نتیجه

لکه څنگه چې پۀ دې مقاله کښې ذکر شُو دَ حسېن پۀ دیوان کښې دَ سوات دَ نوم دَ ذکر، دَ سوات دَ مخصوص تاریخ او کلتور دَ ذکر (لکه دَ شېخ ملي دؤتر، وېش، سېرۍ وغېره) اودَ سوات دَ پښتودَ لهجې مخصوصو الفاظو دَ استعمال او دَ نورو هم عصر تاریخونو او دَ حسېن پۀ باره کښې دَ بعضې روستنو لیکوالانو دَ څېړنو نه مونږ پۀ دې نتیجه رسېږو چې حسېن دَ ژوند زیاته برخه پۀ سوات کښې تېره کړې ده او دغه رنگ شاعري ئې هم پۀ سوات کښې کړې ده - دا خو هغه ثبوتونه دي چې مونږ ترې په دې نتیجه اورسېدلو چې حسېن دَ سوات دَ پکلۍ ؤ او دَ بونېر دَ ملک پور ؤ او دَژوند زیاته برخه ئې پۀ سوات کښې تېره کړې ده خو تر کومې پورې چې دَ هزارې دَ پکلۍ تعلق دے او دَ هزارې دَ ملک پور تعلق دے نو دغه خبره نور تحقیق غواړي دَ کوم لۀ وجې چې به دا خبره نوره هم پۀ ډاگه شي -

دویمه خبره دا ده چې کوم دیوان چې د ښاغلي همېش خلیل د مقدمې، تدوین او ترتیب سره چاپ دے دا دیوان هم د سېد حسېن دے کوم چې د ژوند زیاته برخه په سوات کښې تېره کړې ده -

تجاویز او سفارشات

د دې مقالې د لیکلو په وخت د څۀ وجوهاتو په وجه چې په کومو اړخونو پوره توجه نۀ ده شوې او دغه اړخونه نوره څېړنه غواړي نو بائد چې په نورو څېړنو کښې دغه اړخونو طرف ته پام اوگرځولے شي - د نمونې په توگه یو څو اړخونه دا دي :

1. د حسېن یاسېد حسېن په نوم چې په پښتو کلاسیکي ادب کښې کوم همعصر شاعران یا لیکوالان وي بائد چې د هغوي د ژوند حالات او ادبي کار او زیار باره کښې داسې معلومات وړاندې کړے شي چې د هغوي پېژندگلو اسانه شي -

2. لکه چې په دې مقالې کښې ورته اشاره شوې ده چې د سېدحسېن نور ادبي اثار هم موجود دي نو دا به ډېره ضروري وي چې دغه اثار مخې ته راشي -

3. د سید حسین د اولاد ذکر هم په دې مقاله کښې شوے دے خو دا به نوره هم ښهٔ شي که په موجوده وخت کښې د هغه د اولاد درک ولګي او ورسره انټرویو وشي -

4. د حسین د ژوند ، دیوان او علاقې په باره کښې چې نور چا هم څه مفروضې وړاندې کړي دي نو د هغوي هم یوه سائنسي څېړنه پکار ده -

5. د سید حسین په ژوند ، ادبي خدماتو او د کلام په لسانیاتي تجزیه د ایم فل، پي ایچ ډي د سطحې یو سندي تحقیق پکار دے -

حوالې

[1] اثر، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکېډمي، 1963 ، مخ: 34

[2] ستهانوي، عبدالجبار شاه، کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، 2011، ص:232

[3] هم دغه اثر، ص:232

[4] رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (غېر مطبوعه)، مخ:49

[5] هم دغه اثر، مخ:49،48

[6] دمغار د سوات کبل تحصیل یؤکلے دے

[7] ګالوچ اؤ کالاکلے دَ سوات دَ کبل تحصیل دوه کلي دي -

[8] رحیم، رحیم شاه، سید حسین، مقاله مشموله میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، جلد: 18، شماره: 8، (ستمبر 1986)، مخ:24

[9] حسین، دیوان حسین، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958، مخ:104

[10] لباسي مینه یعني ظاهري مینه پهٔ کومه کښې چې دَ زړهٔ مینه اؤ اخلاص نهٔ وي شامل

[11] حسین، دیوان حسین، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958، مخ:307

[12] هم دغه اثر، مخ:413

[13] هم دغه اثر، مخ:52

[14] رحیم، رحیم شاه، سید حسین، مقاله مشموله میاشتینۍ پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، جلد: 18، شماره: 8، (ستمبر 1986)، مخ:24

[15] اثر، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکېډمي، 1963 ، مخ: 34،35

[16] رشتین، صدیق الله، پیاوړي شاعران، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي، 1993، مخ:40

[17] هم دغه اثر، مخ:41،42

[18] هم دغه اثر، مخ:43

[19] رشتین، صدیق الله، ادبي اؤ تاریخي سموني، پېښور، یونیورستي بک ایجنسي، 1992، مخ:86

[20] رحیم، رحیم شاه، غټه خزانه (غېر مطبوعه)، مخ: 50

[21] حسین، دیوان حسین، مرتّبه همېش خلیل، پېښور، پبلک ارټ پریس، 1958، مخ:123

[22] هم دغه اثر، مخ:210

[23] همېش خلیل (مرتّب)، (پس منظر) دیوان حسین، پېښور، پبلک ارټ پریس، 1958 ، مخ:ط

---

[24] همېش خليل (مرتّب)، (خاکه) ديوان حسېن، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958 ، مخ: ه
[25] رشتين، صديق الله، پياوړي شاعران، پېښور، يونيورستي بک ايجنسي، 1993، مخ: 43
[26] حبيبي، عبدالحیٰ، پښتانۀ شعراء، پېښور، يونيورستي بک ايجنسي، مخ: 159
[27] رحيم، رحيم شاه، سېد حسېن، مقاله مشموله مياشتينی پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، جلد: 18، شماره: 8، (ستمبر 1986)، مخ: 22
[28] حسېن، ديوان حسېن، مرتّبه همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پريس، 1958، مخ: 194
[29] رحيم، رحيم شاه، غټه خزانه (غېر مطبوعه)، مخ: 47
[30] لټون
[31] حسېن، ديوان حسېن، مرتّبه همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958، مخ: 314
[32] هم دغه اثر، مخ: 362
[33] هم دغه اثر، مخ: 355
[34] هم دغه اثر، مخ: 59
هم دغه اثر، مخ: 108
[36] هم دغه اثر، مخ: 150
[37] هم دغه اثر، مخ: 205
[38] هم دغه اثر، مخ: 203
[39] هم دغه اثر، مخ339
[40] رشتين، صديق الله، پياوړي شاعران، پېښور، يونيورستي بک ايجنسي، 1993، مخ: 41
[41] رحيم، رحيم شاه، سېد حسېن، مقاله مشموله مياشتينی پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، جلد: 18، شماره: 8، (ستمبر 1986)، مخ: 23
[42] هم دغه اثر، مخ: 23
[43] هم دغه اثر، مخ: 24
[44] حسېن، ديوان حسېن، مرتّبه همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958، مخ: 58
[45] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), p. 263.
[46] د مدين زوړ نوم چوررړی ؤ کوم چې دَ سوات دَ رياست حکمران، مياګل عبدالودود دَ چوررړی پۀ ځائې پۀ مدين بدل کړو-
[47] Raverty, H.G., An Account of Upper and Lower Suwat, and the Kohistan to the source of the Suwat River with an account of the tribes inhabiting those valleys, Journal of the Asiatic Society (Calcutta) Vol. 31 (No. 3, 1862), p. 263.
[48] رحيم، رحيم شاه، سېد حسېن، مقاله مشموله مياشتينی پښتو، پېښور، پښتو اکېډمي، جلد: 18، شماره: 8، (ستمبر 1986)، مخ: 23
[49] ستهانوي، عبدالجبار شاه، کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، 2011، ص: 233
[50] رحيم، رحيم شاه، غټه خزانه (غېر مطبوعه)، مخ: 49

[51]ستهانوي، عبدالجبار شاه، کتاب العبرة، اسلام اباد، پورب اکادمي، 2011، ص: 233

[52] اثر، قاضي عبدالحليم، تبر هېر شاعران، پېښور، پښتو اکېډمي، 1963 ، مخ: 35

[53] رحيم، رحيم شاه، سېد حسېن، مقاله مشموله مياشتينۍ پښتو، پېښور، پښتو اکيډېمي، جلد: 18، شماره: 8، (ستمبر 1986)، مخ:24

[54]حسېن، ديوان حسېن، مرتّبه همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958، مخ:248

[55]هم دغه اثر، مخ:333

[56]هم دغه اثر، مخ132

[57]هم دغه اثر، مخ251

[58]هم دغه اثر، مخ433

[59]هم دغه اثر، مخ484

[60]هم دغه اثر، مخ: 45

[61]هم دغه اثر، مخ:42

[62]هم دغه اثر، مخ:206

[63]هم دغه اثر، مخ:269

[64]هم دغه اثر، مخ:294

[65]هم دغه اثر، مخ:401

[66]هم دغه اثر، مخ345

[67]هم دغه اثر، مخ288

[68]هم دغه اثر، مخ212

[69]همېش خليل (مرتّب)، (خاکه) ديوان حسېن، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958 ، مخ:ق

[70]حسېن، ديوان حسېن، مرتّبه همېش خليل، پېښور، پبلک ارټ پرېس، 1958، مخ:459

[71]هم دغه اثر، مخ: 162

[72]هم دغه اثر، مخ:53

[73]هم دغه اثر، مخ:455

[74]هم دغه اثر، مخ:58